ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ۲۰۱۰/۷/۱۹

# اســـلام تـــه بـلـــنـــه
## د سید قطب لیکنه

اسلام هغه وجدانی عقیده ده، چه په انساني ټولنه کي د ژوندانه کړه وړه تنظیموي، او د ژوندانه لپاره هراړخیزه نظام جوړوي. اسلام هغه نظام دي چه په ټولنه کي د انسان کړه وړه د کورني ژوندانه، ټولنیزژوندانه، اونړیوال ژوندانه په ډګرونوکي تنظیموي. او په دغومختلفوډګرونوکي د ده په راکړه ورکړه حاکم وي. او د دغو اړیکو او راکړې ورکړې لپاره سیستمونه او قوانین ړدي.
لدي ځایه امکان نه لري چه په اسلامي ژوندانه کي د هغه عقیدې چه د انسان په وجدان کي ځاي پرځاي شوی وي، او د شریعت ترمنځ چه د ده په ژوندانه حاکم وي بیلتون وشي....دا شریعت له هغه عقیدې څخه پرته په ټولنه کي نشي نافذیدلي. همدا راز کله چه دغه عقیده دانسان په وجدان کي متمرکزه شي، نوهڅه کوي ترڅودانسان په واقعي ژوندانه کي د شریعت په انځور کي رابښکاره شي، نود اسلام په طبیعت اوبنسټ کی د عقیدې او شریعت ترمنځ بیلتون نشي کیدای..... دا حقیقت کولاي شي تر څود موږ لپاره اسلام ته د دعوت لاره انځور کړي، د اسلامي دعوت کړنلاره د تاریخ په اوږدو کې دهمدې حقیقت په بنسټ ولاړه ده.
رسول الله ص چې کله اسلامي دعوت پیل کړ، نو څومحدودو کسانو ورته غوږ ونیواو د ده مبارك دعوت ئې قبول کړ، خپل دعوت یې په کامله ټوګه د شریعت او نظام او قانون په څیر کي بشپړ او حاکم کړ، رسول الله ص داسې ونه کړل لکه د تحریف شوی عیسوي دین پیروانو چې ویل به ئې د الله حق دې الله ته ورکړشي او د قیصر حق دې قیصرته ، ځکه چه اسلام هر څه د الله جل جلاله ملکیت ګڼي ، اوهیڅ کوم قیصر نه پیژني ترڅو چه په کامله توګه د الله جل جلاله د شریعت نافذونکي نه وي ، او دخپل ژوندانه چاري د الله جل جلاله د قانون پربنسټ تنظیم نه کړي .
د اسلام له طبیعت سره سم دا تاریخي واقعت د هغه سپیڅلي حقیقت تر څنګ ، د موږلپاره اسلام ته د دعوت لیاره په روښانه انځوروي. په ټولنوکې باید د رسول الله ص د زمانې د دعوت کړنلاره پلي شي ، ترڅو د موږ په ټولنو کې له اسلام سره ایجاد شوې فاصله لمنځه ولاړه شي ، او د مسلمان وګړي په روزنه کې زیاراو کوښښ وشي، سره لدي چه هغه په ذاتي شکل د اسلامي نظام د تحقق لپاره مکلف شوي هم دی . زموږ د د عوت کړنلاره څه نا څه بد لون ته اړتیا لري ترڅو په اوسنۍ زمانی او عصر کې اغیزمنه وي، او له هغه ستونزو سره مبارزه وکړای شي، چه زموږ په ژوندانه کي را برسیره شوی دي.
کله چه رسول الله ص خپل دعوت پیل کړ، له هر څه وړاندي اړتیا وه چه د بشریت روح د متفرقه خدایانو له بند ګی، او له موجودو اوهامو، او له زلتباره شهوتونو څخه وژغورل شي، او دې ژغورنې ته سخته اړتیا وه، تر څو د انسانیت روح پاکه شي اوله اوهامونه نجات ومومي، او د هغه لوړمقامه ژوندا نه لپاره کوم چه اسلام یې انسان ته غواړی وروزل شي.
د متفرقه خدایانو بندګي، که هغه د اوهامو بند ګي وي، اوکه د شهوتونو اوکه د سپکو نفسي غوښتنو بندګي، چه د ټولو مصدر بشري طاقت او قوت دی خو له انسانیت سره نه ښا یي. دا ټولې بند ګۍ د انسان پام له پرمختګ، وړاندي تګ اوآبادي څخه بل لوری ته اړوي، او دا ټولې بندګۍ د ژوندانه د ترقۍ، تمدن اوپرمختګ مخنیوی کوي. هغه پرمختګ چه الله جل جلاله یې انسانانو ته غواړي.
همدا د دعوت لمړی مسولیت ؤ، د رسول الله ص په زمانه کي، او همدارنګه ښا یي چه اوس هم وي، نه یوازي د کلیمه له لیارې، بلکه د ښي نمونې اوپیشوا اود صالح اعمالو له لاري هم.
موږ نشو کولاي چه خلك یوې لارې ته راوبولو ترڅو چه د موږ خپل شخصي ژوند د هغې لارې ترجمان نوي، اوهغه دعوت هیڅ قیمت نلري تر څو چه دعات ئې په خپله د تاید او برهان سند ونه ګرځي.
له ظاهري توپیرنه پرته، زموږ د اوسنۍ زمانې وضعیت او څرنګوالي د رسول الله ص له زمانې سره کوم جذري او اساسي توپیر ندی پیدا کړی، د ځینې کسانو سره داسې تصور دی چه په اوسنۍ زمانه کي د متفرقه خدایانو له بندګۍ څخه دانسان ژغورلوته اړتیا نشته، خو داسي نده، ځکه چه په اوسنۍ زمانه د متفرقه خدایانو بندګي د جاهلیت له زماني څخه کمه شوی نده، هغه څه چه بدل شوي، هغه د خدایانو نوعیت دي، نه هم د خدایانو بندګي! د شهوتونو اوخرافاتو بندګي هوبهو په خپل حال پاتي ده!
خوکوم بدلون او تغیر چه نن په خپله کړنلاره کي ورته ضرورت لرو، هغه دا دی چه په ټولنه کې د مسلمان وګړي روزنه یوازي د عقیدوی او ټولنیز اړخه ونه کړو، بلکه سره لدې عملی ټولنیز پروګوامونه د ژوندانه لپاره په ټولنه کی وړاندي کړو، چه د اسلامي فکر په اساس ولاړ وي، او له اسلامي شریعت څخه ئې امتداد اخیستي وي. او دا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پرګرامونه په ټولنه کي پلي کړو ترڅو مسلمان وګړي وروزو، او دا پرګرامونه پرلپسي هره ورځ په ټولنه کي عملي کړو څرنګه چه د رسول الله ص په زمانه کي عملي شوي دي.
دا هغه یوازني بدلون دی چه د دعوت پلان ورته اړتیا لري، اود نننی ستونزو طبیعت چه د دعوت په ډګر کې زموږ په چاپیریال پیدا شوې دی ورته اړتیا لري، همدا راز هغه تغیرات چه په نننۍ زمانه کي پیدا شوي ورته اړتیا لري.
کله چه رسول الله ص خپل مبارك دعوت پیل کړ، په جزیرة العرب کي، مستقراو مقتدر حکومت، ثابت نظامونه، او معیني ټولنیزې دستګاوي نه وې. همداراز په ټوله نړۍ کې د نن په څیر روښانه او واضح نظامونه ،اود حکم، ټولنې، اقتصاد لپاره روښانه اوټاکل شوي نظریات نه ؤ. نواسلام وکولای شول ترڅولمړی خپل ټولنیزنظام په تدریجي ډول جوړکړي، او بیا دټولنیز سیستم دې ودې په کچه په ژوندانه کي خپل لیدلوري یو پربل پسي تطبیق کړي، وروسته له دې چه د اسلام نظام بشپړ شو، د هغه ټولونظامونو په وړاندي چه هغه مهال په نړۍ کې موجود وو، ودرید، او وربانډې غالب شو، بعضي کسان تصور لري چه دا برى د وسلې په زور لاسته راوړل شوي دي، خوداسې نده، دا برى دهغه فکر په مرسته لاسته راغي کوم چه اسلام له ځانه سره راوړي وه، او له هغو ټولو فکرونو څخه ځانګړي فکر دي کوم چه هغه مهال او اوس مهال په نړۍ کي شتون لري.
اسلام د آزادۍ هغه اتل دي چه بشریت ئې لا تراوسه ساری ندی لیدلي، د بشریت لارښود دی. اوموږ ته پکار ده، ترڅو بشریت ته په یوه معقول انځور کې د اوسني عصردعقل سره سم دا ادعا ثابته کړو.
په نړۍ کی نن مفصلې ټولنیزې نظریې حاکمې دي، که چیري موږ خلك اسلام ته رابولو نو پکار ده چه داسلام ټولنیزه نظریه مفصله وړاندي کړو، هوکې: نظریه په یوازي توګه تر هغې پورې نشي کولاي چه د ژوندانه چارې اصلاح کړي، او لوړ مقام ته یی ورسوي، ترڅو چه مسلمان وګړي جوړښت ونه مومي، او ونه روزل شي، او په دې نظریه ایمان او یقین ونلري، او په خپل ورځني ژوندانه کې یی پلي نه کړي. نن مسلمان وګړي ته پکار ده چه د اسلام له ټولنیزې نظریې څخه مفصل ذهنیت ولري، ځکه چه له اسلامي ټولنیزې نظریې څخه پرته چه په کامل ډول باید په واقعي ژوندا نه کې تطبیق شي، دیني وجدان جوړښت نه مومي.
هغه کسان چه موږ اسلام ته رابولو، د دوی په ژوندانه کې له اسلامه پرته نور نظامونه هم شته چه د دوي په ژوندانه حاکمروایي کوي، او دوی نه پریږدي چه په ټولنه کي یی راکړه ورکړه کاملا اسلامي بڼه ولري. ځکه چه د نننی ژوندانه بنسټونه په اسلامي اساساتو ندي ولاړ. نو ځکه د دوي دینی وجدان له واقعي ژوندانه سره په ټکرکي واقع کیږی، او دا په مجموع کي دپام وړ خبره ده، ځکه چه دا د بدلون پیل دي، اودا بنسټونه باید له هغه اسلامي انځور سره مطابقت پیدا کړي کوم چه اسلام خلکو ته انځور کړي دي، نوپکار ده چه دا انځور ټولو ته روښانه، مالوم، او مشروع وي، ترڅوانسان د هغه د لاسته راوړني لپاره د پوهې اوبصیرت سره سم هڅه وکړي.
لدي کبله دا کفایت نکوي چه خلك اسلام ، قرآن او دالله جل جلاله حکم، او اسلامي شریعت ته، او یاد اسلامي حکومت نظام ته په مجهول ډول راوبولو، اوداسې نور بنسټیز مسائلو ته یی چه په ذهن کي ورته تفصلي او څرګند وضاحت نشته.
پکارده چه په اسلامي ټولنه کي د مسلمان وګړی د روزنې لپاره اسلامي روزنځایونه وي. دا د کار بنیاد دي، او پدې روزنځایونو کې باید له اسلامه په تفصیل پوه تر لاسه شي، او داسلامي ژوندانه انځور په کامل ډول څرګند شي، تر څو مسلمان وګړی هغه څه په لاس راوړي چه د ده دیني وجدان دی ورته هڅوي چه باید په لاس یی راوړي. دا اسلامي انځور باید ټولو ته د ټولنیزې مفصلې نظریې په شکل کي پیژندل شوي وي، او داسلامي ژوندانه ټول اړخونه، اود وګړواو ټولنیزو ټولنو اړیکي، او هغه اساسات چه داسلامي ژوندانه بنسټ ږدی وڅیړي.
دا هغه هڅه نده چه له وخت څخه وړاندي شوي وي، او د ا هڅه باید د اسلامي حکومت تر قیامه پورې ونه ځنډول شي، ځکه چه اسلامي حکومت په ټولنه کي تر هغه وخته نه قایمیږي تر څوچه خلك په هغه انځور قناعت ونکړي کوم چه اسلام ئې د خلکو د ژوندانه د بیهبود لپاره رسموي، او تر څو خلك خپل مسولیتونه، حقوق، اړیکي په ټولنه کي ونه پیژني.
هیڅکله هم کفایت نه کوي ترڅو خلك اسلام ته په مجمل او مختصره ډول راوبولو، لکه چه رسول الله ص رابلل، په هغه زمانه کي چه هلته اجتماعي مفصلي نظریی نوې چې د اسلام د دعوت سره مقابله وکړي. نو چیرته چې اسلام له هغو پرمختللیو ټولنیزو نظریو څخه برخمن دي چه بشریت یی لا تر اوسه ساری ندی لیدلی، نو کله چې موږ خلك دغه دین ته رابولو نوولي دا مفصل نظریات ورته په واقعي ژوندانه کې تطبیق شوی سره له ټولو مشکلاتو او غوښتنو ئې وړاندې نه کړو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ